AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

کبربری

۲۰۲۴/۰۷/۲۸

# زما شپې

هره شپه چي ستوري وځېژي اسمان ته
سپوږ مۍ مخ ښکلی ښکاره کاندي جهان ته
شورماشور د ورځي غلی شي ویده شي
ناکراره ښار راخپل کړي سکوت ځان ته
*****

د چوپتیا لمن خوره شي په هر لوري
ستړي سترګي د عالم په خوب خوږې شي
خلک ونیسي آرام د شپې په غېږ کي
ترېنه لري د ژوند ستړي اندېښني شي
*****

زه د درد او خواشینۍ یوه توته شم
په ما پوري شي د غم تک سره اورونه
لېونو غوندي شم سر په سړکونو
نا کراره درسته شپه وهم مزلونه
*****

نه مي تاب نه مي آرام نه مي کرارشي
په هرګام مي له زړګي ویني څڅېږي
په هر لوري چي نظر کړمه تا وینم
په هرځای مي ستا څېره مخ ته تاوېږي
*****

اوه چي څومره نا آرامه زما شپې دي
وای چي څومره مي خواشیني دي وختونه
آه چي څومره وې ښائسته لحظې د وصل
اوف چي څومره یې ترخه دي اوس یادونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ